# ۲۰ جنوري ۲۰۱۰

# دَ باچا خان دَ دوويشتمې او دَ خان عبدالولي خان دَ څلورمې کليزې رپورټ

قاضي حضورالله

دَ جنورۍ دَ مياشتې په شلمه نېټه کال ۲۰۱۰ء دَ عوامي نېشنل پارټۍ دَ صوبائي صدر سېنېټر افراسياب خټک دَ هداياتو په رڼا کښې دَ پښتونخوا صوبې په ټولو ضلعو او فاټا کښې دَ پښتنو دَ عظيمو مشرانو فخر افغان باچا خان دَ دوويشتم تلين او دَ رهبر تحريک خان عبدالولي خان څلورم تلين په ډېر جوش او جذبې سره ونمانځلې شو او خپلو درنو او عظيمو مشرانو ته ئې دَ عقيدت پېرزوئنې دَ نوي جوش او ولولو سره وړاندې کړې.



پېښور ضلع کښې دَ ميا مشتاق احمد او پېښور ښار صدر ملک غلام مصطفي دَ صدارت لاندې، چارسده کښې دَ خالد خان، نوښار کښې دَ احرار خټک، مردان کښې دَ انجنئير عباس خان، صوابۍ کښې دَ حاجي رحمان الله خان، ملاکنډ کښې عزيزخان کاکا، سوات کښې محمد درويش خان، شانګله کښې دَ حاجي سېدفرين، لکي مروت کښې صدرالدين مروت، بنو کښې اسرائيل خان، کرک کښې تعليم خان ايډوکېټ، ټانک کښې دَ خان ګل بېټني، هنګو کښې دَ پيرحېدرعلي شاه، کوز دير کښې دَ قائمقام صدر حاجي ايوب، بره دير کښې دَ سعيدانور خان، کوهستان کښې رضاولي خان، کوهاټ کښې عنايت قريشي، ډي آئي خان کښې شهاب ايډوکېټ، بونېر کښې عبدالرشيد خان، مانسهره کښې دَ سرور خان، هري پور کښې شوکت مشواني، چترال کښې سېدمظفر علي شاه، بټګرام کښې جاوېد خان، ايبټ اباد کښې همايون خان، شمالي وزيرستان کښې فضل حميد داوړ، کرم ايجنسۍ کښې مومند شاهين، خېبر ايجنسۍ کښې عبدالرحيم اپريدي، باجوړ کښې ګل زاده او مومند ايجنسۍ کښې دَ غلام خان ګربز دَ صدارت لاندې دَ فخر افغان باچا خان دَ دويشتم او رهبر تحريک خان عبدالولي خان دَ څلورم تلين په مناسبت سره قرآن خواني او پروقاره غونډې وشوې او خپلو مشرانو ته ئې دَ عقيدت ګلونه وړاندې کړل او دَ دوي قومي خدماتو او سترو باندې ئې رڼا

واچوله. په دې غونډه کښې دَ مرکز او صوبې نمائندګانو ګډون وکړو.

دَ باچا خان دَ دویشتم او دَ خان عبدالولي خان دَ څلورم تلین دَ نمانځلو په لړ کښې دَ ضلع پېښور او پېښور سټي دَ سبوري لاندې نشتر هال پېښور کښې یوه درنه غونډه دَ پېښور ضلعې دَ اې این پي صدر میا مشتاق احمد او پېښور سټي ډسټرکټ صدر ملک غلام مصطفيٰ دَ صدارت لاندې په ډېر عقیدت او احترام سره ونمانځلې شوه. دَ سټېج دَ سېکرټري فرائض دَ پېښور ضلعې جنرل سېکرټري عبدالرحیم خان او دَ پېښور سټي ډسټرکټ جنرل



سېکرټري نواب علي یوسفزي په ډېر ښۀ ډول ترسره کړل. په دې موقع دَ عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي صدر اسفندیار ولي خان، مرکزي سینئر نائب صدر سنېټر حاجي محمد عدیل، مرکزي ایډېشنل جنرل سېکرټري محمد هاشم خان بابر، دَ پښتونخوا صوبې صدر سېنېټر افراسیاب خټک، بېګم نسیم ولي خان، سینئیر منسټر بشیر احمد بلور صیب، صوبائي جنرل سېکرټري تاج الدین خان، دَ پښتونخوا صوبې وزیراعلي امیرحېدر خان هوتي صیب، دَ وزیراعلي مشیر سېد معصوم شاه، دَ اې اېن پي صوبائي سېکرټري ثقافت حمیدالرحمان محمدزے، صوبائي جائنټ سېکرټري قیصرخان، دَ عوامي نېشنل پارټۍ دَ صوبائي اسمبلۍ نارینه او زنانه غړو سېد عاقل شاه، عالمګیر خلیل، عطیف الرحمان، ارباب ایوب جان، ثاقب الله چمکني، تبسم یونس کټوزۍ، منور فرمان، یاسمین ضیاء او نورو دَ صوبائي اسمبلۍ غړو او دَ پارټۍ عهدېدارانو په ګڼ شمېر کښې دَ پارټۍ ورکرانو ګډون وکړو.

دَ کلیزې دستورې شروع کېدو نه وړاندې کریم الله خټک نومي ماشوم دَ حضرت باچا خان په حواله دَ هغوي دَ زندګۍ تاریخي پس منظر باندې دَ پښتون قام دپاره قربانو، سترو، جدوجهد دَ پښتون قام ویښولو، هغه دَ تعلیم او علم دَ رڼا په اهمیت خبرولو او هغوي کښې تعلیم او علم عام کولو او ازادو مدرسو په حوالې سره دَ خپل وس مطابق په ژورتیا سره په جذباتي انداز کښې رڼا واچوله.

دَ ماشوم کریم الله خټک نه پس دَ سکول ماشومانو ډېر په خوږ اواز په ښۀ انداز کښې دَ خدائے بخښلي غني خان لیکلې شوې پښتو ترانه "اے زما وطنه دَ لعلونو خزانې زما" واوروله. دې نه پس دَ سټېج سېکرټري دَ پارټۍ مرکزي، صوبائي مشران او دَ پارټۍ دَ صوبائي اسمبلۍ غړي سټېج ته راوبلل او دَ کلیزې او دستورې باقاعده شروع وشوه. دَ غونډې دَ دستورې نه وړاندې دَ قرآن پاک تلاوت وشو، دَ تلاوت کلام پاک نه پس دَ پښتو نومورې سندرغاړي فضل اکبر راهي دَ غني خان بابا ترانه "اے زما وطنه دَ لعلونو خزانې زما" یو ځل بیا واوروله چې ټول اورېدونکي ورته په تعظیم کښې ودرېدل.

نظم نه پس دَ عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي جنرل سېکټر تاج الدین خان، دَ اې اېن پي ضلع پېښور صدر میا مشتاق او پېښور سټي ډسټرکټ

صدر ملک غلام مصطفٰي فخر افغان باچا خان او رهبر تحریک خان عبدالولي خان ته دَ عقیدت پېرزوئنې وړاندې کړې او دَ خپلو عظیمو لاربنودانو ژوند، فلسفه او کردار ئې دَ پښتون قام دپاره رڼا وګرځوله.

دې کلیزې غونډې ته دَ عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر سېنېټر افراسیاب خټک په خپله وینا کښې ووې چې پښتون قام دَ ترهه ګرۍ په ذریعه دَ ختمولو کوشش شروع دے خو دَ غېرت مند پښتون قام دښمنان دې په خلاصو غوږونو واوري چې دوي به په خپله ختم شي او پښتون قام به وي. ډېرو خلقو دا ارمان په زړۀ وړے دے. اې اېن پي به همېشه وي، سره جنډه او دَ سرې جنډې ملګري به تل وي. دوي ووئیل چې انګرېزانو دَ خدائي خدمتګار تحریک او دَ سرې جنډې دَ ختمولو کوشش کړے ؤ، هغوي لاړل او سره جنډه اوس هم موجوده ده. ایوب خان او بیا ضیاءالحق هم دغسې کوشش وکړو خو هغوي هم کامیاب نۀ شو او دا ارمان ئې ګور ته دَ دې دنیا نه په زړۀ یوړو. اوس هم پښتانۀ او سرې جنډې دَ ترهګرۍ په ذریعه دَ ختمولو کوشش کېږي خو دَ پښتون قام دَ شهیدانو او قربانو سره دا سازش هم ناکام کړے شو، دې دپاره دَ پښتنو دښمنانو ته خبردارے ورکوو چې هغوي به په خپله ختم شي خو پښتانۀ نۀ شي ختمولے.

دَ اې اېن پي پخواني صوبائي صدر مېرمن نسیم ولي خان دَ پښتون قام دپاره دَ خدائے تعالٰي نه دَ امن دعا وغوښتله او دَ اردو څو شعرونه ئې ولوستل. دې نه پس دَ پښتنو سالار دروند او ستر مشر او دَ عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي صدر قدرمند اسفندیار ولي خان صیب غونډې ته په خپله وینا کښې ووې چې دَ ټولو مشکلاتو او کړکېچنو حالاتو باوجود عوامي نېشنل پارټي قام ته صوبه کښې دَ امن قائمولو، دَ بجلۍ مد کښې دَ ۱۱۰ ارب روپو دَ وصولۍ او متفقه این اېف سي اېوارډ ورکولو سره دَ کالاباغ ډېم منصوبه همېشه دپاره دفن کړه او اې اېن پي په خپل انتخابي منشور کښې چې عوامو سره کومې وعدې کړې دي هغه ټولې پوره کړې دي او تاسو سره وعده کوم چې دَ باچا خان او رهبر تحریک خان عبدالولي خان په راتلونکي کلیزې په موقع به دَ صوبې نوم هم پښتونخوا ابښودے شوے وي. دوي په خپله وینا کښې ووې چې عوامي نېشنل پارټي سوات، وزیرستان او اوس اورکزۍ ایجنسۍ کښې دَ فوځي اپرېشن نه مطمئنه ده او دَ دې دَ پوره حمایت اعلان کوي. دوي ووې چې مونږ به دَ خپلو مشرانو په اصولو ځو او دَ تشدد او ترهګرۍ په ضد به جنګ جاري ساتو. آئین کښې دَ ټولو ادارو اختیارات څرګند دي، دَ ادارو مېنځ کښې ټکراؤ او سیاسي محاذ ارائي دَ ملک دپاره بې حده خطرناک ثابتېدے شي. دوي دَ برصغیر پاک و هند دَ ازادۍ دَ عظیم مجاهد خدائي خدمتګار او دَ عدم تشدد تحریک باني فخر افغان باچا خان دویشتم او دَ پښتنو دَ ملي رهبر، رهبر تحریک خان عبدالولي خان دَ څلورم تلین په موقع ووئیل چې نن مونږ دَ



خپلو مشرانو دَ تلین په موقع دَ دې عهد تجدید کوو چې زمونږ عظیمو مشرانو چې دَ کومې لارې او منزل دپاره خپل ژوند قربان کړے ؤ، مونږ به دَ هغوي په ښودلې شوې لار ځو او خپل منزل ته به دَ رسېدلو کوشش کوو. دوي ووئیل چې دَ وژونکو نه دَ بچ کوونکي ذات ډېر لوئے او عظیم دے، نن په مونږ یو داسې بزدل دښمن حمله کوونکے دے چې په پټه او غلا ګوزار کوي چې دَ هغې په نتیجه کښې معصوم او بې ګناه خلق مري. زۀ دې خلقو ته چېلنج ورکوم چې دوي دې مخې ته راشي او حمله دې وکړي چې سره دَ دواړو زور معلوم شي.

دوي ووئیل چې دَ اسرائیلو نه راتښتېدلي خلق نن زمونږ په خاوره دَ امریکې خلاف دَ جنګ کولو دعوې کوي، دوي دې اوس ووائي چې په مینابازار، لکي مروت او دَ صوبې په نورو ځایونو کښې دوي کوم امریکنے مړ کړو، ټول ئې هم زمونږ بچي مړۀ کړل او پښتون قام ته ئې جاني او مالي نقصان ورسولو.

دوي ووئیل چې اکثر خلق مونږ ته پېغورونه راکوي چې په دوه کالو کښې ستاسو حکومت څۀ وکړل؟ نو مونږ دوي ته یادول غواړو چې دَ هرې سیاسي پارټۍ انتخابي منشور وي چې هغه دَ قام مخې ته ږدي، مونږ چې انتخابي منشور کښې دَ عوامو سره کومې وعدې کړې دي، هغې کښې اکثر پوره شوې دي. ملاکنډ ډویژن کښې دَ امن قیام، کالاباغ ډیم منصوبه ختمول، دَ بجلۍ دَ خالصې منافعې دَ بقایاجاتو وصولي، این ایف سي ایوارډ او چشمه رائټ بېنک کېنال وعدې مونږ پوره کړې دي او ډېر زر به دَ صوبې دَ نوم دَ بدلون زېرے عوامو ته ورکړو.





دوي ووئیل چې مونږ ته په کومو حالاتو کښې حکومت میلاؤ شو نو داسې حالات په ملک او قوم مخکښې کله هم نۀ وو راغلي. مونږ چې کومو خلقو سره مخ وو هغه دَ مغلو او چنګیزیانو نه هم زیات ظالمان وو. په دې دوو کالو کښې حالات ښۀ شوي دي سوات، بونېر، دیر او پوره صوبه کښې امن قائم شوے دے. تېره ورځ ما ته ملاکنډ نه یو ملګري ټیلي فون وکړو او راته ئې ووئیل چې کۀ امن کښې اوسېدل غواړې نو سوات ته راشه. دوي دَ ترهګرۍ په ضد جنګ دَ پارټۍ کارکنانو، عوامو او سیکیورټي فورسز قربانو ته سلام پېش کړو.

په اخر کښې دَ عوامي نېشنل پارټۍ ستر مشر او مرکزي صدر اسفندیار ولي خان ټولو سیاسي ګوندونو ته اپیل وکړو چې خپل ټول اختلافات یو اړخ ته کړي او دَ ملک دَ بقاء دپاره یو موټے شي.